Asylum Support Partnership
help and advice

Pushto

October 2010

# د برخه لمبر 4 (Section 4) مرستو د ‘Azure’ د پیسو ورکولو کارت

که تاسې ته د برخه لمبر 4 مرستې درکول کیږي، د هستوګنځي او همدا ډول په هره اونۍ کې د 35 پونډو په ارزښت د مرستې مستحق یاست. تاسې ته به د هرې اونۍ د مرستې پیسې د کارت د پیسو ورکولو اتومات سیستم له لارې، چې د ‘Azure’ د پیسو ورکولو کارت بلل کیږي، درکړی شي.

د Sodexho په نوم اداره د بریتانیې د سرحدونو ادارې (UK Border Agency - UKBA) په استازیتوب د پیسو ورکولو سیسټم پرمخ بیایي. دا کارت باید د خوراک، کالیو، د پاکۍ او نظافت سامان او هر هغه څه د اخیستلو لپاره وکارول شي چې په ځانګړو مغازو کې پلورل کیږي کومو چې د دې کارت له منلو سره موافقه کړې ده.
خو د Azure کارت په کارونه د ډالیو کارتونه، پټرول او ډیزل نه شئ پلورلای.

## تاسې به کارت څنګه ترلاسه کړئ؟

ستاسې د پیسو ورکولو ځانګړی کارت به تاسې ته ستاسې د هستوګنځي د برابرونکي لخوا درکړی شي. که چیرې ستاسې کارت سمدستي درنکړی شي، نو تاسې ته باید په مغازو کې د مصرف کولو لپاره کوپونونه درکړی شي.

## دا کارت څنګه کار کوي؟

ستاسې د کارت حساب ته په یکشنبه په نیمه شپه کې په اتومات ډول سره ستاسې د هرې اونۍ د مرستې پیسې اضافه کیږي. له هغه وروسته به تاسې وکولای شئ چې خپل کارت ځانګړو مغازو ته د خوراکي موادو، د پاکۍ او نظافت سامان یا کالیو د اخیستلو لپاره ستاسې د هرې اونۍ د مرستې د پیسو تر اندازې پورې ولګوئ. تاسې اړ نه یاست چې ټولې پیسې په یوه مغازه کې او په یوه ځل سره مصرف کړئ.

د مغازې کارکوونکي به ستاسې کارت د کارت لوستونکي ماشین کې تیر کړي او ستاسې د اخیستل شویو سامانونو پیسې به ستاسې له کارت نه په اتومات ډول د مغازې حساب ته انتقال شي.

### هیله کیږي دا لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

- **که تاسې یو مجرد او بالغ کس یاست** د پیسو ورکولو په کارت کې به ډیره اندازه پیسې نشئ ساتلی. اوس مهال که ستاسې د هرې اونۍ پیسې په کارت کې پاته شي، **یوازې تر 5 پونډونو پورې نامصرف شوې پیسې** به ستاسې د راتلونکې اونۍ د مرستو پیسو ته انتقال شي. نورې هر څومره پاتې پیسې به بیرته واخیستل شي.
- تاسې نشئ کولای چې داسې څه واخلئ چې په کارت کې د موجودو پیسو نه زیات قیمت ولري. که داسې حالت پیښ شي، مغازه به تاسې ته د هیڅ یو شي چې تاسې یې د اخیستلو هڅه کوئ د اخیستلو اجازه درنکړي. د دې کار له پیښیدلو څخه د مخنیوي لپاره، مهرباني وکړئ او **مخکې** له دې چې کارت د کارت لوستلو په ماشین کې واچول شي دا وګورئ چې ستاسې په کارت کې موجودې پیسې د شیانو د اخیستلو لپاره کفایت کوي.
- په مغازو کې په خپله اخیستلو ماشینونه مه استعمالوئ. ټول یې تر اوسه پورې د Azure کارت لپاره نه دي سمبال شوي.
- په مغازو کې تاسې د نغدو پیسو بیرته اخیستلو (cash back) (پیسو بیرته اخیستلو) غوښتنه نشئ کولای.

نورې ژباړل شوې رسالې په لاندې ویب پاڼه کې شته دی: http://languages.refugeecouncil.org.uk

Asylum Support Partnership is a partnership project hosted by the British Refugee Council
British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom, VAT no: 936 519 988

- **تاسې دا کارت په بانک يا د پيسو راويستلو په ماشين کې نشئ کارولی.** که تاسې د پيسو راويستلو په ماشين کې د کارت د کارولو هڅه و کړئ نو هغه به بند شي او تر هغه پورې به په مغازو کې کار ونکړي تر څو چې د UKBA لخوا بيرته فعال نشي.

## په خپل کارت کې د خپلو شته پيسو اندازه څنګه معلومه کړم؟

په کارت کې د پاتې پيسو د اندازې د معلومولو لپاره، تاسې کولای شئ لاندې شميرې ته ټيليفون وکړئ:

**د Azure کارت د پاتې پيسو د پوښتنې کرښه**
**(Card Balance Enquiry Line) ټيليفون: 0800 028 5364**

- دې شميرې ته ټيليفون کول له ليني ټيليفون څخه وړيا دي، خو له ګرځنده ټيليفون څخه نه.
- تاسې به د ننوتلو لپاره د خپل Azure د پيسو ورکولو کارت شميرې ته اړتيا ولرئ.
- لارښوونې په انګليسي ژبه دي، او د ژباړې خدمت نه شته. که تاسې په لارښوونو نه پوهيږئ نو مهرباني وکړئ او له کوم چا نه د مرستې غوښتنه وکړئ.

## دا کارت په کومو مغازو کې استعمالولی شم؟

تاسې دا کارت په لاندې مغازو کې کارولی شئ:Tesco, Asda, Morrisons, The Co-Operative, Peacocks او Boots.

تاسې بايد دخپل هستوګنځي له برابرونکي څخه پدې اړه چې دا کارت په کومو سيمه ايزو او ملي مغازو کې منل کيږي د نويو معلوماتو پوښتنه وکړئ.

## که ستونزه ولرم نو له چا سره اړيکې ونيسم؟

- **که ستاسې کارت کار نه کوي.** د کارت د ستونزو لپاره د مرستې کرښه جوړه شوې ده:
  **Sodexho د پناه غوښتونکو مراجعينو د مرستې کرښه** (Asylum Seekers Customer Helpline)
  **ټيليفون:** 01276 687 098 (د سهار له 9 بجو د مازديګر تر 5 بجو پورې پرانيستې وي)

- **که د خپلې مرستې د اونيزو پيسو يا اضافي پيسو په اړه ستونزه ولرئ**
  د خپل UKBA له سيمه ايز ټيم يا برخه لمبر 4 ټيم سره اړيکې ونيسئ.

- **که ستاسې کارت ورک شوی وي يا غلا شوی وي.** تاسې بايد د هغې خبر د خپل هستوګنځي برابرونکي ته ورکړئ، چې هغه به تاسې ته مشوره درکړي او کولای شي له تاسې سره بيرنی مرستې وکړي.

- **که تاسې په مغازه کې ستونزې لرئ:**
  ټولې هغه مغازې چې پورته يې نومونه ذکر شوي او نوې مغازې چې UKBA يا ستاسې د هستوګنځي برابرونکي تاسې ته د هغوی په اړه ويلې وي بايد ستاسې کارت ومني.
  د مغازو کارکوونکو ته بنايي د کارت په اړه معلومات ورکړ شوي وي او دا چې د هغه د کارولو لپاره لاسليک، د پيژندنې شخصي شميره (PIN) يا د پيژندنې بل سند ته اړتيا نشته. که د مغازې کارکوونکي ستاسې د کارت له منلو ډډه وکړي، تاسې بايد له هغوی وغواړئ چې له خپل منيجر سره د تصديق لپاره اړيکې ونيسي، او يا له منيجر نه وغواړئ چې د Sodexho د مراجعينو د خدمت له ټيليفون شميرې سره د اړيکو له لارې هغه تصديق کړي.
  که ستاسې کارت د لوستلو په ماشين کې اچول شوی وي، خو مغازه تاسې ته د سامان د وړلو اجازه نه درکوي، له هغوی وغواړئ چې تاسې ته رسيد درکړي چې وښيي خرڅلاو فسخ شوی دی.

خپلې پاتې پیسې وګورئ: کیدای شی بیا هم پیسې ستاسې له کارت څخه اخیستل شوي وي.
که پیسي له کارت څخه اخیستل شوي وي خو تاسې ته د سامان د وړلو اجازه نه وي درکړ شوي، دا پیسې باید د 48 ساعتونو دننه په اتومات ډول سره بیرته ستاسې کارت ته واچول شي.
که تاسې غواړئ چې دا پیسې تر دې ژر او بیړنۍ توګه ستاسې په کارت کې واچول شي یا د 48 ساعتونو دننه پیسې ستاسې په کارت کې نه وي اچول شوي، مهرباني وکړئ او د کډوالو له خپل سیمه ایز ارګان سره اړیکې ونیسئ.

**د نورو معلوماتو یا مرستې لپاره، په خپله سیمه کې د کډوالو له کومې ادارې سره اړیکې ونیسئ.**



Asylum Support Partnership consists of:

North of England Refugee Service, charity number: 1091200 www.refugee.org.uk
Refugee Action, charity number: 283660 www.refugee-action.org.uk
Refugee Council, charity number: 1014576 www.refugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council, charity number: SC008639 www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Welsh Refugee Council, charity number: 1102449 www.welshrefugeecouncil.org